# د خوشحال خان خټک په قصیدو کښې حیاتیاتي جغرافیه

# Biogeography in Khushal Khan Khattak's Eulogies

1. Adnan Ahmad[1]
2. Dr Samandar Yousafzai[2]

## ABSTRACT:

*Khushal Khan Khattak was a great Pashtun writer of the 17th century. Who created a great name in the literary world with his poetry and prose. He was the owner of many qualities. He was a poet, writer, warrior, general, psychologist, Educationist, an economist, anthropologist and also a Geographer. But Knowledge of geography is prominent among them. In this article, research on Biogeography has been presented in the Eulogies of Khushal Khan Khattak's.*

*Keywords: khushal khan khattak, writer, eulogies, geography, biogeography.*

خوشحال خان خټک په ادبي نړۍ کښې هغه نابغه شخصیت تېر شوے دے ۔ څوک چې په یو وخت شاعر ادیب، جرنېل، د قام مشر، طبیب، سپلانے، تاریخ دان، جغرافیه دان او نور ډېر څۀ وۀ ۔ عبدالحئ حبیبي د خوشحال خټک په اړه وایي:

> **" خوشحال خان خټک د پښتو پلار او د تولو نه لوئے او ښۀ شاعر دے ۔ د خټکو نومیالي قوم کښې د شهباز خان زوئ د یحیٰي خان نمسے او د ملک اکوړ خان کړوسے وو ۔ وائي چه د ملک اکوړ خان پلار ملک چنجو د اکبر باچا په زمانه کښے په پښتون والا (پښتون خوا) کښے مشهور مشر وو ۔ د دۀ زوئ ملک اکوړے یا اکوړ خان د پښتنو ملي مشر وو او اکوړے هغه ودان کړے دے ۔ څۀ وخت چه دهلي کښے جهانګیر باچا شو نو دغه وخت د پښتنو مشر شهباز خان وو ۔ شهباز خان د دویشت کالو وو چه په اکوړي کښے د ربیع الثاني په میاشت ۱۰۲۲هـ بمطابق ۱۶۱۳ء کښے د دۀ یو زوئے اوزیږیدو د هغۀ نوم ئے خوشحال کیښو ۔ دا خوشحال خان وروسته یو مِلّي ننګیالے مشر او د پښتو ژبے د تولو نه لوړ ادیب او مشهور شاعر شو"[1]**

د دې ګڼ اړخیز شخصیت کلام د دۀ د علمي، ادبي او فرهنګي فکرونو مجموعه ده او په لټون سره په کښې بلها نورې بېش بها ملغلرې را ووځي ۔ خوشحال خان خټک د نورو ځانګړنو

[1] Ph.D scholar Department of Pashto university of Malakand

[2] Lecturer Department of Pasht University of Malakand

سره سره په "علم جغرافیه" تر هر چا زیات پوهه وۀ ـ ځکه د دغه علم سره اړه لرونکي افکار ئې د کلام برخه جوړه کړې ده ـ دې ځېړنه کښې د هغه په حیاتیاتي جغرافیه بحث کیږي ـ

علم جغرافیه د نړۍ په زړو علمونو کښې شمېرلے شي ـ دې ته د ځمکې سائنس هم وایي ـ په دې کښې په ځمکه د شتون لرونکي توکیو د مقام په اړه بحث د نظر لاندې راوستلے شي ـ د دې په اړه وئیلے شي ـ

**"د جغرافیې اصطلاح یوناني ریښه لري چې له "جیوګرافیا" څخه اخیستل شوې، عربان یې بیا "الجغرافیه" بولي ـ په فارسي کې د "جغرافیه" او "جغرافي" په نومونو کارول شوې ، چې دواړه په یوه معنی سره دي ـ په انګلیسي ژبه کې (Geography)ورته ویل شوې او له دوه برخو یې ترکیب موندلي چې (Geo) د ځمکې او خاورې په معنی دي او (Graphy) د بیان ، توضیح، تشریح، کښلو، ښودلو او د تحلیل په معنی دي ـ**

**جغرافیه هغه پوهه ده چې د ځمکې د کرې انساني چاپیریال څیړي ، یا دا چې د ځمکې کره د انساني فضایي لیدلوري ښخه مطالعه کوي ـ په بله ژبه جغرافیه د چاپیریال او انسان د اړیکو د علمي مطالعې څخه عبارت ده، اګر که دا چاپیریال د استوګنې طبیعي چاپیریال وي یا انساني اقتصادي د استوګنې چاپیریال یا سیاسي امنیتي ـ ستریټژک چاپیریال وي" ـ [2]**

داسې په ځمکه دوه قسم خطې شتون لري ـ یو د فطرت له خوا وي لکه اوبه، کاڼي، غرونه، موسمونه، اجرام فلکي، ځناور او ونې بوټي وغیره او بل د انسان جوړ کړي وي ـ لکه کلتور، نفسیات، معاشرت، معیشت، ودانۍ، صنعتونو او ځینې نور څیزونو دي ـ علم جغرافیه د دې د مقام او درجه بندۍ په اړه معلومات تر څېړنې راولي ـ

په ځمکه د فطرتي او انساني خطو له کبله د دې قسمونه هم دوه لوے یادولے شي چې وروسته په خپلو ذیلي څانګو کښې تقسیم شوي دي ـ د دغه دوه څانګو په اړه راځي:

**"Geography has two major subdivisions, human (Social Science) and Physical (Natural Science)."[3]**

**ژباړه: د جغرافیې دوه لوې څانګې دي، انساني (سوشل سائینس) او فیزکي (قدرتي سائینس)**

د فزیکي جغرافیې په ذیلي څانګو کښې یوه حیاتیاتي جغرافیه هم ده ـ دا بیا په دوه برخو ویشلې شوې ده ـ چې یوه کښې د ځناورو او بله کښې د بوټو جغرافیائي تقسیم کیږي

## حیاتیاتي جغرافیه (Biogeography)

دا څانګه په یو وخت د حیاتیاتو، ماحولیاتو او جغرافیې د علم سره تعلق لري ـ چې په کښې د ژوندو څیزونو او خصوصاً د ځناورو او بوټو د جغرافیائي تقسیم ،ماحول او هجرت په اړه خبره کیږي ـ د دوې په یو ځاے د تعلق خبره کوي یا دا څېړي چې مختلف ځناور او بوټي به

په کومه خطه ،خاوره یا آب و هوا ژوند ته دوام ورکولے شي، او په کومو کومو ځایونو کښې به ئي ژوند متاثر کیږي ۔

د غرۀ ، صحرا، میداني علاقو، واورو اوبو او مختلفو علاقو د بوټو او ځناورو خپلې خپلې ځانګړنې وي ۔ د جغرافیې په دې څانګه کښې دغه ټول د څېړنې لاندې راوستلے شي ۔

د حیاتیاتي جغرافیې په اړه راځي:

> **"Biogeograph, the study of the geographic distribuition of plants, animals and other forms of life ".[4]**
>
> **بایو جغرافیه، د نباتاتو، حیواناتو او د ژوند نورو ډولونو د جغرافیایي وېش مطالعه ته وائي**

د جغرافیې د علم ماهرانو حیاتیاتي جغرافیه په دوه لویو برخو ویشلي ده ۔ یوې ته د بوټو جغرافیه (Phytogeography) او بل ته د ځناورو یا حیواني جغرافیه (Zoogeography) وائي، دې نه علاوه د یو بل قسم ذکر ورسره هم کیږي ۔ چې ورته Mycogeography (د وړو بغېر شین رنګ لرونکي بوټو جغرافیه) وائي ۔ په کوم کښې چې د فنګس Fungi (د بوټو هغه قسم چې شین رنګ نۀ لري)۔

غرض دا چې د جغرافیې په دې قسم یعني Biogeography کښې د زمکې په مخ د موجودو ساه لرونکیو ، ځایونه او د هغوي تقسیم په نظر کښې ساتي ۔

## د خوشحال خټک په قصیدو کښې د ځناورو جغرافیه/ حیواناتي جغرافیه (Zoogeography)

د جغرافیې په دې څانګه کښې د بېلابېلو ځناورو د جغرافیائي تقسیم خبره کیږي ۔ چې کوم ځناور چرته او په څنګه ماحول کښې ژوند ته دوام ورکوي ۔ دا د حیوانیات (Zoology) د علم سره هم اړیکې لري خو جغرافیه کښې دا د حیاتیاتي جغرافیه (Bio Geogrphy) لاندې لویه څانګه ده ۔ د دې په اړه راځي:

> **"حیوانیات کا وہ شعبہ جو حیوانات کي مقامی تقسیم سے متعلق ہے ، اس میں یہ بیان کیا جاتا ہے کہ کون کون سے جانور کہاں کہاں پائے جاتے ہیں) انگ : زوجیوگریفی"[5] Zoogeoraphy) ۔**

خوشحال په خپل کلام کښې ځاے په ځاے د بېلابېلو لویو وړو ځناورو، مرغو او حشراتو د اوسېدو ځایونه یعني جغرافیه او ماحول یاد کړے لکه وائي:

د ماهي ژوندون دریاب دے کۀ تري ووت
په خشکی کښې به دے کله فراغت کا
د ګونګټ د ګل د بویه نه بلا ده

ژونــد ژواک واړه پــه بــوئي د نجاســت کــا[6]

یا دا چې:

ښــاپیرک کــۀ پــه هــوا ځــي پــه تــورتم کښــې
پــه راتلــۀ د رڼــا ورځــي دے پــه غــم کښــې[7]

کــۀ هــر څــو پــه هــوا پرونــه وهــي چــتے
بیــا ئــې زړه وي پــه ډکــي د ونــې نښــتے[8]

## د لویو ځناورو ذکر

د قصیدې په یو شعر کښې وائي:

ښکاري سپے چې د نخچیر پـه ښکار کښـې ښـه شـي
لـــه خوښـــۍ ئـــې پـــه مـــخ مـــړي رویمـــال[9]

نخچیر د ځنګل یا صحرا وحشي ځناور ته وائي ـ په دې شعر کښې خوشحال ختک د نخچیر د ښکار ذکر کړے چې د ښکاري سپے کله د دې په ښکار کولو یا قابو کولو کښې کامیاب شي ـ یا د دې جوګه چې لوے ښکار وکړي ـ نو مالک ئې د خوشحالۍ نه مخ په خپل رومیال پاکوي ـ

دغه شان د ډوډۍ په جنګ کښې ګډون کوونکیو د پاره یو حیواناتي مثال ورکوي چې:

د میــــدان هوســــۍ یــــو یــــو تــــازي نیســــي
ډوډي غــــپ پــــه کلــــي ګرځــــي ډېــــر انعــــام[10]

تازي یو قسم نرۍ ملا واله ښکاري سپے دے ـ انګریزۍ کښې ورته saluki او د پېنتنو په ځینې علاقو کښې ورته تازن وائي ـ په منډه او ښکار کښې ډېر تېز وي ـ د خوشحال مطلب تري نور دے خو دلته د دوه قسم سپو ذکر کوي یو تازي چې په میدان کښې هوسۍ رانیسي هوسۍ په منډه کښې تېزه خو بیا ئې هم قابو کوي یا ښکار کوي ـ او بل ډوډي غپ سپي چې په کلي کښې انعام یعني اوزګار بې کاره ګرځي ـ دا دواړه برابر نۀ دي ـ

داسې په یو عشقیه شعر کښې د خپل محبوب د پاره عجیبه تشبیهـ راوړي وائي:

چې مې ووینې غرڅۀ غونډې ترهيږي
کۀ پـه خـوئي راسره لړ غونډې اشنا وے[11]

غرڅۀ غرڅنې پسه ته وائي ، چې د انسانان نه ویریږي ترهيږي ـ خوشحال خټک د دې غرڅنې ځناور دا کیفیت په خپله مشاهده کړے ځکه خو ئي دلته ذکر کړے دے ـ

دا رنګ په یو بل شعر کښې د خپلې مشاهدې زور ښائي لیکي:

اے چې طمع د تور سترګیو د یارئ کړې
د صحرا آهو هم کله چا ته رام دے؟[12]

دلته د معشوقې تشبیهـ د صحرا د آهو سره ورکوي ـ د صحرا آهو په صحرا کښې ژوند کوونکي هوسۍ ته وائي ـ چې د خپل چست والي او تېزوالي له کبله د چا په لاس نۀ ورځي ـ یعني ښکار کول ئي ګران وي ـ

داسې د ملک خطا هوسۍ او بیا د دغه هوسیانو نه د ویستونکي مشک نافې هم خوشحال په خپلو شعرونو کښې یادې کړې ـ

څو قسمه نافې ئې په هر چین کښې دي د څنیو
خلق پـه ناحقـه چـین تاتار لـره ور درومـي[13]

د کاکلو تر نافې به ئې خجل شوه
کۀ حاضره اوس هوسۍ د خطَا وے[14]

دلته د محبوب د زلفو ذکر د چین یا خطا د هوسۍ د نافو سره کوي ـ دې ته مشک خطا هم وائي ـ د دې په اړه راځي:

**"خطا (زمانہء قدیم میں شمالی چین کا ایک حصہ یا شہر) یہاں کے ہرنوں کے نافوں کامشک مشہور ہے ۔"[15]**

یو ځاے کښې ځان ته ازمرے وائي خو د نورو ځناورو ځانګړني او خوراکي توکي ورسره هم بیانوي وائي:

چې پـه غوښـو ئې روزګـار هغه مزرے یـم
نـۀ چې ولـې د وښـو خوري هغه مږک یـم[16]

د مـــزري بخـــره ورمېـــږ د نيلـــه ګـــاؤ دے
ګيـــدړ تـــروړي ئـــي مړيـــږي پـــه لحـــام[17]

دې نه علاوه يو بل ځاے د عراقي اسونو ذکر هم کوي ليکي:

زر ئـــــــي ټـــــول کـــــړل لکونـــــه
طبيلــــــــــي ئــــــــي عراقيــــــــان[18]

مرصـــــع تـــــوره تـــــر مـــــلا کـــــړه
تيـــــزي ښـــــۀ ښـــــۀ عراقيـــــان[19]

عرب اسونه په توله نړۍ کښې مشهور او اعلیٰ دي ـ خوشحال ختک د دې نه هم خبر وۀ ـ د دوي په اړه راځي:

**"عراق، شام اور موجوده سعودی عرب کے گھوڑے سب سے زیاده قیمتی اور عمده سمجھے جاتے تھے".** [20]

دا رنګ يو بل شعر کښې د هوسی او ازمري ذکر يو ځاے کوي وائي:

کۀ ګاوز په جنګ باتور دے جنګ ئي هير دے
چـــي پـــه ســـر وخـــوري ښيـــره د صـــيغام[21]

ګاوز يو قسم هوسی ده چي لوے لوے ښکرونه ئي وي ـ باره سنګها ورته هم وائي ـ خوشحال هغي ته اشاره کړې چي په جنګ کښې ډيره تکړه وي خو هر څۀ ترې هېر شي چي په سر د ازمري ښيره وخوري ـ

داسي په يو ځاے کښې د چيندخ جغرافيائي حدود بيانوي وائي:

عاقبـت هغـه چينـدخ پـه خـوارۍ خـوار شـي
چـــي واتـــۀ کـــا لـــه دريابـــه پـــه جبـــال[22]

يعني کۀ يو چيندخ په اوبو يا درياب کښې وي نو دا ورله غوره ده ـ په وجه د دې چي دلته ورته د اوسېدو مناسب ځاے او خوراک مېلاوېږي خو کۀ دا چيندخ د غرونو په طرف ورځي نو ځان خواروي ـ خپل ژوند په خطره کښې کوي ـ

## د مرغو ذکر:

خوشحال خټک یو ښکار کوونکے ګرځینده سړے وۀ ـ په خپل کلام کښې ئي ځاے په ځاے د بېلابېلو مرغو د جغرافيي او نورو ځانګړنو په اړه خپله مشاهده وړاندې کړې ـ دا رنګ د ښکار دوران کښې د هغۀ نظر د عام ښکاري نۀ بلکه د مرغو یو ماهر وۀ ـ دغه ذکر جميل یوسفزے په خپل کتاب کښې داسې کوي:

**"خوشحال دا ښکار نۀ صرف د یو شوقين ښکاري په توګه خپل کړے وو. بلکه د یو عالم پرندپال او پرندشناس (Ornithologist) رتبه ئي پکښې هم لرله"[23]**

هغه ته د نورو مرغو په نسبت د باز د ښکار،خوراک او مرضونو علم سپوا وۀ ـ دغه وجه ده چې په ټول کلام کښې ئي د باز د عام پرېمانه ذکر نه علاوه 'لنډئ بازنامه' چې په قصيدو کښې شتون لري او يوه د جدا کتاب حثيت لرونکي 'بازنامه' ليکلي ـ په لنډئ بازنامه کښې خوشحال د باز د بېلابېلو ځانګړنو په اړه غږېدلے ـ يو ځاے وائي:

د میـــزان نیـــولے ښـــۀ دے یـــا د قـــوس
پـــه عقـــرب نیـــولے نـــۀ وي بـــې ضـــرره
په درست ژمي ئي ساته په تاؤده ځاے کښې
تماغـــه ئـــې پـــه بهـــار واخلـــه د ســـره[24]

میزان د برجونو په حساب د ۲۳ ستمبر نه تر ۲۲ اکتوبر پورې، قوس د ۲۲ نومبر نه تر ۲۱ دسمبر او عقرب د ۲۴ اکتوبر نه ۲۲ نومبر پورې حسابيږي ـ خوشحال خټک په دې شعرونو کښې د باز نيولو او ساتلو وختونه ښائي ـ هغه وائي چې باز کله نيسې نه د هغۀ د نيوو د پاره ښکلے وخت د ميزان مياشت ده يا د قوس خو کۀ په عقرب ئي نو بيا د ضرر او نقصان سبب وي ـ بيا وائي چې په ټول ژمي کښې د ځان سره په تود ځاے کښې ساته او تماغه يا د مخ پټولو هغه تهيلۍ نما ټوپۍ ترې هله لر کړه چې د سپرلي موسم شروع شي ـ

بيا د يو بل باز ځانګړنه داسې بيانوي:

کـــۀ د ژمـــي پـــه وخـــت ښـــې نیســـي بټیـــرې
تـــر باښـــې نـــه هغـــه بـــاز ګنـــه تیـــز پـــره[25]

يعني مرز د اوړي په موسم کښې ښکار کولے شي خو خوشحال وائي چې کوم باز د ژمي په ورځو هم مرزان نيسي نو پوهه شه چې د دۀ نظر او تېزوالے د باښې نه هم سپوا دے-

داسې د باز د يو قسم بچے چې کله د جالې نه پاڅي څۀ کوي هغې ته ئي اشاره کړې چې:

د شـــاهین مـــرغـــے چـــې والـــوزي لـــه ځـــالي
پـــه کاتـــۀ کـــړه نـــورو زانیـــو تـــه پیغـــام[26]

دا رنګ د ځان صفت کوي وائي:

لکـه بـاز پـه لـوے لـوے ښـکار زمـا نظـر وي
نـۀ چـي ګرځـي ګونګـټ نيسـي بـادخورک يـم[27]

په دې شعر ځان ته د باز نسبت کوي چي په لوے لوے ښکار ئې نظر وي ـ خو يوه بله مرغۍ بادخورک ورسره يادوي چي هغۀ نۀ يم ـ کومې ته چي په انګرېزۍ کښې 'Common swift'او عربۍ کښې 'سمامۃ شائعۃ' وائي ـ پښتانۀ ورته لګرے وائي ـ دا په هوا يا زمکه ګرځېدونکي واړه حشرات خپل خوراک جوړوي ـ دې نه خوشحال د مرغو په اړه مشاهده په ډاګه کيږي ـ

داسې بازونه عموماً په غرونو کښې اوسيږي خوشحال ختک د نورو مثالونو راوړلو سره دا ذکر کوي وائي:

مسـتجاب مومنـد کـۀ چرګـه د مغـل ده
زۀ خوشحال ختک خو بـاز يـم ځـاے مـي غـر[28]

دا رنګ بل ځاے ئې د نورو ځناورو د جغرافيې سره ګډ ذکر کوي ليکي:

نـۀ يـو بـاز د سـردرو نـۀ ډېـرې چرګـې
د ځنګلونـو مـزرے يـو کيـدړ هـزار[29]

په دې ساده شعر کښې څۀ کۀ هغۀ خپل صفت کړے خو ورسره ئې د باز د اوسېدو جغرافيه غرونه، چرګې په زمکه وي د کيدړ او زمري د پاره ئې د ځنګل ذکر کړے دے ـ

داسې د باز يوه بله ځانګړنه چي په يو ځاے اوسيږي او په بل اوچت ځاے ئې نظر وي داسې بيانوي:

لکـه بـاز پـه يـوۀ غـرۀ ګرځـي بـل ګـوري
بيـا زمـا نظـر د سـوات پـه کوهسـتان شـي[30]

دې نه علاوه په يوه قصيده کښې د ژمي په موسم کښې د بېلابېلو مرغو د ښکار او هجرت خبره کوي وائي:

چــي د ښــکار هوســناکي کــا
پــرې ښــادي شـــي دا اوان
د شــــــمال مرغونـــــه واړه
پـــه جنـــوب شـــي راروان

نوي باز راشي له سواته
لکه ښهٔ سیلي جوګیان
د سپوږمۍ په شُغله یون کا
ژغ کا زانې په اسمان
قاز او بطې راخورې شي
هم هیلۍ صد چندان
زرکې کوزې شي وسم ته
په دانه د دهقانان
تغدري لکه دوړنے
ځان خرګند کا په میدان
که شاهین که ښرخ که باز وي
رائې واخلي میر ښکاریان[31]

دا داسې مثالونه دي چې د خوشحال ختک د مرغو په اړه مشاهد او علم ترې ظاهرېږي ـ

**د حشراتو جغرافیه:**

حشرات په زمکه د بغیر ملا تیر لرونکي ځناورو (Invertebrates) لوے خاندان دے ـ د خوشحال ختک په کلام کښې د دوي د اوسېدو ځایونه یا ځیني ځانګړني هم بیان شوې دي ـ په یو شعر کښې د ریښمو د چینجي ذکر داسې کوي:

وکمخواب وته ئې مهٔ غروه سترګې
په وریښمو کښې چینجي دي د حریر[32]

په دي شعر کښې د ریښمو د کیږې ذکر کوي چې ښکلي او پسته ده خو ښکلا ته ئې ډېر مهٔ خوشحالیږه ځکه دا هم د چینجي پیدار دے ـ په وروسې شعر کښې د ماشو د اوسېدو ځاے ته اشاره کوي وائي:

کله خپل نمود په رنګ د میوو وکا
کله خونه شي د ماشیو خرانجیر[33]

خرانجیر غټ انځر ته وائي ـ خوشحال ختک وائي چې دا انځر خپله ښکلا او میوه ښائي خو کله کله پورې دغه ښکلا اوور شي ـ او وجه ئې دا ده چې دا پوخ شي نو د ماشو (Mosquitoes)د اوسېدو خوش ځاے شي ـ

داسې د قصیدې په یو شعر کښې د مچ او ګبینه مچې جغرافیائي حدود داسې بیانوي:

د عسـل خـوارۀ مچـۍ زده نـۀ چـې مـچ زده
چـې عسل وتـه نـزدې شـي نـور تبـاه شـي[34]

عسل په عربۍ کښې ګبين ته وائي ـ په دې شعر کښې خوشحال د ګبينه د مچی ځانګړنه بيانوي چې خپل ګبين په خپله خوړلے شي ـ خو کۀ د دغه ګبين خوړلو هڅه مچ کوي، نو هغه به د تباهۍ سره مخ کيږي ـ د هغې وجه دا ده چې مچی په ګبين په هنر سره کښيني پاڅي او خوري ئې خو کۀ مچ ورځي نو هغه به په کښې انخښلي او داسې به تر مرګه رسي ـ

د خپل صفت په لړ کښې بل ته اوراورکے او ځان ته د سهيل ځلانده ستورے وائي:

مـــدعي د تـــورې شـــپې اوراورکـــــے وۀ
د سـهيل غونـدې مـې ځـان بانـدې ځرګنـد کـړ[35]

اوراورکے هم د حشراتو د خاندان څخه دے ـ په اردو کښې ورته جګنو او انګريزۍ کښې Firefly وائي ـ د شپې په تيارۀ کښې را ووځي او په وجود کښې د قدرتي کيمياوي مادو د شتون والي له کبله رڼا کوي ـ

دا رنګ په يو مثال کښې د ګونګټ ذکر کوي وائي:

د ګونـګټ غونـدې جـار ووزي
پـــه ســـرګين او پـــه ګـــودان[36]

دا ځاے د خوشحال مخاطب نور څوک دي ـ خو د خپلې حيواناتي مشاهدې زور دلته هم ظاهروي او وائي چې ګونګټ د ښکلاګانو نه نا خبره وي د دۀ ځاے يا په سوته يا ګنده تتی کښې وي ـ

## د خوشحال خټک په قصيدو کښې د بوټو جغرافيه:

د بوټو جغرافيه يا Phytogeography/geobotany په فزيکي جغرافيه کښې د حياتياتي جغرافيې (Biogeography) لاندې ښاخ دے چې د بېلابېلو بوټو خواص او تقسيم په جغرافيائي حواله تر څېړنې لاندې راولي ـ دې کښې دا کتلے شي چې کوم بوټے په کومه جغرافيه (خاوره يا ماحول) کښې ژوند ته دوام بخښلے شي يا د جغرافيې بدلون څنګه د دۀ ځانګړني تر اغيز لاندې راولي؟ دې ته نباتي جغرافيه هم وائي:

**"نَباتی جُغْرافِیہ:nabaatii-juGraafiyaعلم جغرافیہ کی ایک شاخ جس میں عموماً نباتات کے زمین پر محل و قوع اور پھیلاؤ وغیرہ سے بحث کی جاتی ہے۔"[37]**

د خوشحال په کلام کښې د ونو بوټو د ځانګړنو او جغرافيې د بيان نه دا خبره ښکاره ده چې د نورو علومونو سره سره ئې د بوټو پوهه هم لرله ۔ د دغه پوهې ذکر ئې اجمل ختک په خپل کتاب کښې سره د نورو ځانګړنو داسې کړے:

**"کبھی ماہر علم نباتات و حیوانات کی حثیت سے جانوروں اور پودوں کے خواص بیان کرتا ہے"[38]**

## د لويو ونو ذکر/ د ميوو د ونو ذکر:

خوشحال خټک په خپله شاعرئ کښې ځاے په ځاے د بېلابېلو ونو ذکرونه کړې دي لکه وائي:

کــــهٔ د بــــاغ دي کــــهٔ د راغ دي پــــه ســــلګونو دي دا ونــــي
ښوک سپيدار دي ښوک چينار دي ښوک پلو دي ښوک پلوسِ[39]

دې نه علاوه خوشحال د ځينې ونو د ځانګړنو سره سره د هغې په جغرافيه هم غرېدلے د نباتي جغرافيې يو نمائنده شعر ئې داسې دے:

کـــهٔ پـــه شـــهد ئـــې ســـاتي مـــزه ئـــې نـــهٔ وي
ناشـــپاتی د ســـمرقند د هنـــد پـــه مزکـــو[40]

ثمر قند د ازبکستان دويم لوے ښار دے ۔ د دې ځاے ناشپاتۍ او مڼې مشهورې دي ۔ موسم ئې ټول کال خوندور وي، بارانونه کيږي ۔ او بل طرف ته د هندوستان اب هوا ده چې ګرمه ده ۔ خوشحال ځکه وائي چې د کهٔ د اوبو په ځاے ورته ګبين ور اچوې خو هم به ئې د ناشپاتۍ هغه مزه نهٔ وي ۔

دا رنګ قصيدې په يو شعر کښې د محبوب زنې ته بيا د سمرقند مڼه وائي چې:

ښائســـته زنـــه دي ســـيب د ســـمرقند دے
چـــې خـــوارهٔ ئـــې تـــر نبـــاتو نـــه بســـيار دي[41]

يعنې د محبوب د صفت سره د سمرقند مڼو خوږوالي ته هم اشاره کوي ۔ په يو بل شعر کښې د دوه قسمه انارو فائدې داسې بيانوي:

خـــوږ او تريـــو انـــار همـــه واړه دارو دي
فوائـــد د خـــوارهٔ لا دي افـــزون تـــر[42]

دې نه علاوه يو ځاے کښې د شاعر د بد خصلت ذکر کوي ـ چې د خپل محبوب په صفت کښې مبالغې نه کار اخلي:

د يـــار قـــد لـــه ســـبر ونـــي ســـره ســـم كـــا
ســـبر ونـــه ده پـــه بـــاغ كښـــې نونهـــال[43]

دې کښې د سبر د ونې ذکر راغلے کومې ته چې د سروې ونه هم وائي ـ دا په قد کښې تر نورو ونو زياته دنګه وي ـ

خوشحال خټک په دغې هم اکتفا نۀ ده کړې بلکې د بوټو يا ونو د ښاخ تراشۍ په اړه ئې هم خپل ماهرانه نظر وړاندې کړے وائي:

چـــې پـــه ژمـــي ښـــاخ بُـــري وشـــي د ونـــي
پـــه بهـــار كښـــي ئـــې لا ښـــۀ پـــر و بـــال[44]

يعنې په د يخنۍ په موسم کښې چې د کومې ونې سپواګړې ځانګې لر کړې شي نو بيا په بهار کښې هغه ونه د نورو ونو نه زياته ښکلې وي ـ دې نه علاوه ګل او بار ئې هم سپوا وي ـ اوس هم د يخنۍ په موسم کښې باغوانان د شلتالانو، خوبانو، الوچو يا نورو مېوو د بوټو نه د بوټې د صحت او ډېر امدن په غرض ښاخ تراشي کوي ـ

### د وړو بوټو او ګلونو ذکر:

د خوشحال خټک په قصيدو کښې د بېلابېلو بوټو او ګلونو ذکر راغلے دے ـ ځينې ځايونو کښې د طب پوهنې د يو ماهر په توګه د صحرا د بوټو او د باغ د بوټو تاثير بيانوي چې د Phytogeographyښۀ مثال دے ـ خوشحال خټک وائي:

د صـــحرا ويلـــنے خـــوره پـــرې ورکيـــږي
کـــۀ د نـــس مـــوره لـــړې وکـــړه بـــاور
د بـــاغي ويلنـــي ســـود د خـــوراک ډېـــر دے
پـــه وجـــود کښـــې د بـــاد نـــۀ پرېـــږدي اثـــر[45]

په دې شعر کښې د يو قسم بوټې چې پښتانۀ ورته اينلے يا وينلے وائي ـ وچوي ئې او بيا د خيټې د درد د پاره يا په خوراک کښې د خوند پيدا کولو د پاره کاروي ـ په ورپسې شعرونو کښې د نورو بوټو ذکر کوي:

پـــه خـــوراک تـــوره بنګـــره زاړۀ زلمـــي کـــا
کـــۀ خـــوراک ئـــې ځـــوک يـــو کـــال کـــا مقـــرر
حـــرارت لـــره كاســـني چـــې خدائـــے پيـــدا كـــړه

نور دارو په خولهٔ یاد مهٔ کړه خشک و تر[46]

توره بنګړه یو قسم تریخ او تېز خوند واښهٔ دے، چې د نظر او طاقت د پاره استعماليږي ـ داسې د يو بل بوټي کاسني ذکر ورسره کوي کوم ته چې انګرېزۍ کښې Chicory وائي ـ دا بوټے د چائے يا کافی په ځاے د وجود ګرم ساتلو د پاره څکولے کيږي ـ

دا رنګ په يو ځاے کښې د بېلابېلو جغرافيو د بوټو پېوند کارۍ ته اشاره کوي وائي:

په سپلمۍ په ګنډيري کښې
کهٔ پېوند شي تاک رمان[3]

په ميوه به ئې خوږ نهٔ شي
د چا کام د چا دهان[47]

کله چې د زراعت او باغوانۍ پوهان د يو ځاے نه بل ځاے ته د څهٔ بوټي نسل اوړي يا په کښې ځانګړتيا پيدا کوي ،.نو په کښې پېوند لګوي چې ورته Budding وائي ـ دا پوهان په ځانګړي طريقه کوي او د يو بوټي نه د بل بوټي تاثير او فائده اوچتوي ـ خوشحال خټک د دغې ذکر کوي چې سپلمۍ او ګنډيرے چې تريخ او زهريله بوټي دي کهٔ چرته دې کښې د انګور او انار پېوندونه ولګوے خو بيا به هم دې کښې خوږوالے را نهٔ شي ـ يعني بنياد چې د يو څيز څنګه وي بره به هم اثر پيدا کيږي ـ

داسې سابه يا سبزي (Vegetables) د پښتنو دوديز خوراکونو کښې د دوي د خوند خواږه دي ـ دا بېلابېل تاثير لرونکي شنې پاڼې وي ـ په يو شعر کښې د يو بوټي پېژندګلو او ځانګړنې ته په عجيبه انداز اشاره کوي وائي:

مارچوبه دې تن د مار په شکل ساز کا
په خپل ځان کښې به د مار کيږدي تاثير؟[48]

مارچوبه د سبزۍ د خاندان څخه دے ـ په انګرېزۍ کښې ورته Asparagus او فولکلوري توګه ورته sparrow grass وائي ـ د دې شکل يا خاص سر د مار په شان وي ـ خوشحال وائي کهٔ هر څو د دواړو تن يو شان دے خو تاثير ئې جدا جدا دے ـ

هم د دغه مضمون سره سم يو بل شعر کښې وائي:

---

[3] تاک، انګور او رمان انار ته وائي۔

د ســــړي قـــدر قيمـــت پـــه اعتبـــار شـــي
چـې خــوارۀ ورځنــي لاړل کــنــے کــاه شــي [49]

دلته کۀ هر څو يو اخلاقي قدر اعتبار د انسان د پاره ضروري توکے ګڼي خو مثال ورله د ګني او واښۀ راوړي ـ چې ګنے خوږ او واښۀ بې خونده وي ـ دا قسمه مضمون رحمان بابا هم کارولے وائي:

کۀ د اوښـيو پـه درياب بانـدے ئـے نهل کـړے
نيشــکر بــه نيشــکر وي نــل بــه نــل شــي [50]

نيشکر ګني ته وائي او نل د ګني په شکل بوټي يا ټانټے ته وائي چې هيڅ خوارۀ نۀ لري -

دا قسم ذکر چې د هر بوټي خپل تاثير وي، عبدالقادر خان خټک کړے دے خو هغه په کښې د ګلابو او اوري د سابو ذکر کړے وائي:

کــه ګـــلاب لکـــه بـــاران وربانـــدې اوري
د ګلابـــو بـــوئي بـــه لاړ نـــۀ شـــي لـــه اوري [51]

دغه رنګ خوشحال خټک د سابو د يو قسم ذکر کړے ليکي:

پـــه ســـابو کښـــي د ســـووي ســـابه مفيـــد دي
ولـــې بويـــه چـــې محـــرور ئـــې خـــوري کمتـــر [52]

سووه يو قسم سابه دي چې ګرم تاثير لري او ډېر خوراک ئې د وجود د پاره د زيان سبب جوړيږي ـ په يو بل شعر کښې وائي:

د چنبـــي تـــر ګلـــو ډېـــر دے زمـــا قـــدر
و بـــې شـــناختو وتـــه ګـــل د پنيـــرک يـــم [53]

دا شعر هم د خوشحال په نباتي مشاهده ګواهي ورکوي ـ دې کښې د چنبې او پنيرک د ګل ذکر کوي ـ چنبه يا چنبيلي چې په انګريزی کښې ورته Jasmine وائي ـ يو قسم بوټے دے، چې سپين خوش بويه ګلونه نيسي ـ ګل ياسمين ورته هم وائي ـ د سپين نه علاوه د دې بل قسم زير ګلونو واله وي چې ډېر خوشبويه نۀ وي ـ بل طرف ته پنيرک چې يو ډول سابه دي اوس کرلے کيږي هم، خو په عامه توګه به دا باغونو کښې په خپله رازرغونېدل چې د ګل په رنګ خو د هغې نه واړه واړه بغير خوش بويه سپين ګلونه به ئې نيول ـ خوشحال خټک ځان ته چمبې

ګل وائي او ورسره غبرګوي چې د چا د پېژندګلو تجربه او پوهه نۀ وي نو زۀ ورته د پنيرک ګل ښکارم ـ

خوشحال خان ختک په خپله شاعرۍ او خصوصاً په قصيدو کښې ځاے په ځاے د بېلابېلو ځناورو او بوټو د مقامونو ذکر کړے دے ـ ځکه چې د نورو ځانګړنو سره سره خوشحال يو ښۀ ښکاري وۀ، د مختلفو ځناورو د مقامونو نه خبرېدل ورله مهم وو۔ دې نه علاوه هغه يو بهترين طبيب هم وۀ، چې د بېلابېلو ونو، بوټو، ګلونو، د مقام او تاثير نه خبر وۀ ـ دا وجه وه، چې د هغه خپلو دغه خصوصياتو په شعوري او غير شعوري توګه د هغه نه په کلام کښې د حياتياتي جغرافيې ښکاره مثالونه سرزد کړي دي ـ چې د دې څېړنې برخه ده ـ

## حواله جات: (References)

[1] حبيي، عبدالحئ، پښتانهٔ شعراء (اوله حصه)، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، چاپ کال ندارد، مخ ۸۶

[2] پوهندوي، کریم الله، د نړۍ سیاسي جغرافیه، ننګرهار پوهنتون جغرافیه څانګه، ۱۳۹۷ هـ ش، مخونه ۸،۹

[3] *David Dorrel and others, Introduction to Human Geography (2nd Edition) University system of Georgia, Spring 2019, Page 2*

[4] *https://www.britannica.com/science/biogeography*

[5] *https://www.rekhtadictionary.com/meaning-of-haivaanaatii-jugraafiya?lang=ur*

[6] خټک، خوشحال خان، د خوشحال بابا کلیات(سمونه: یار محمد مغموم خټک)، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۲۰۱۶ء مخ ۴۹۷

[7] هم دغه اثر، مخ ۲۶۲

[8] هم دغه اثر، مخ ۸۷۵

[9] هم دغه اثر، مخ ۱۵۵

[10] هم دغه اثر، مخ۱۶۴

[11] هم دغه اثر، مخ ۲۶۰

[12] هم دغه اثر، مخ ۲۵۳

[13] هم دغه اثر، مخ ۲۶۴

[14] هم دغه اثر، مخ ۲۶۱

[15] *https://www.rekhtadictionary.com/meaning-of-mushk-e-khataa?lang=ur*

[16] خټک، خوشحال خان، کلیات، مخ ۱۷۶

[17] هم دغه اثر، مخ۱۶۴

[18] هم دغه اثر، مخ۱۸۶

[19] هم دغه اثر، مخ۱۸۷

[20] *https://www.independenturdu.com/node/89746*

[21] خټک، خوشحال خان، کلیات، مخ ۱۶۵

[22] هم دغه اثر، مخ ۱۷۲

[23] جمیل یوسفزے، د خوشحالیاتو یو څو اړخونه، نوبل پرنټنګ پریس شیوه اډه صوابی، مارچ ۲۰۰۷ء، مخ ۴۳

[24] خټک، خوشحال خان، کلیات، مخ ۲۳۷

[25] هم دغه اثر، مخ ۲۳۸

[26] هم دغه اثر، مخ ۱۶۵

[27] هم دغه اثر، مخ ۱۷۶

[28] هم دغه اثر، مخ ۱۷۱

[29] هم دغه اثر، مخ ۱۹۴

[30] هم دغه اثر، مخ۱۹۰

[31] هم دغه اثر، مخ ۲۳۱

[32] هم دغه اثر، مخ ۱۹۳

[33] هم دغه اثر، مخ۱۹۳

[34] هم دغه اثر، مخ ۲۵۹

[35] هم دغه اثر، مخ۱۵۳

[36] هم دغه اثر، مخ۱۸۶

[37] *https://www.rekhtadictionary.com/meaning-of-nabaatii-jugraafiya?lang=ur*

[38] اجمل ختک، پشتو ادب، ماضي او حال، پښتو اکېډیمي بلوچستان کوئیته، ۲۰۱۶ء، مخ ۴۲

[39] ختک، خوشحال خان، کلیات، مخ ۵۹۴

[40] هم دغه اثر، مخ ۶۹۶

[41] هم دغه اثر، مخ۲۵۴

[42] هم دغه اثر، مخ ۲۱۵

[43] هم دغه اثر، مخ۱۵۵

[44] هم دغه اثر، مخ۱۷۵

[45] هم دغه اثر، مخ ۲۱۶

[46] هم دغه اثر، مخ ۲۱۶

[47] هم دغه اثر، مخ۱۸۵

[48] هم دغه اثر، مخ ۱۹۳

[49] هم دغه اثر، مخ۲۶۰

[50] مومند، عبدالرحمان ، د رحمان بابا کلیات (تحقیق، ترتیي، سمونه: قلندر مومند، کامل مومند)، کوهاټ روډ پېښور، ۱۹۸۴ء، مخ ۲۷۷

[51] ختک، عبدالقادر خان، دیوان، تحقیق ترتیب پروفسپر جهانزیب نیاز، ملت ایجوکېشنل پرنټرز لاهور، مارچ ۲۰۰۳ء، مخ ۱۷۲

[52] ختک، خوشحال خان، کلیات، مخ ۲۱۶

[53] هم دغه اثر، مخ ۱۷۶

Reference


.1 Habibi, Abdulhayi, Pukhtana Shoara (awala hisa), University Book Agency Pekhawar, Chaap kal Nidard, makh 86
.2 Pohandaway, Karim Ullah, Da narrayi siyasi Jhoghrafia, Nangrahar Puhanton Jhoghrafia Sanga, 1397 H S, makhona 8,9
.3 David Dorrel and others, Introduction to Human Geography (2nd Edition) University system of Georgia, Spring 2019, Page 2
.4 https://www.britannica.com/science/biogeography
.5 https://www.rekhtadictionary.com/meaning-of-haivaanaatii-jugraafiya?lang=ur
.6 Khattak, Khushal khan, Da Khushal baba Kulyat(smawna: Yar Muhammad Maghmom Khattak), University Book Agency Pekhawar, 2016, makh 497
.7 Hum Dagha Asar, makh 262
.8 Hum dagha Asar, Makh 875
.9 Hum dagha asar, makh 155
.10 Hum dagha Asar, makh 164
.11 Hum dagha asar makh 260 ,
.12 Hum dagha asar, makh 253
.13 Hum Dagha Asar, makh, 264
.14 Hum Dagha Asar, makh 261
.15 https://www.rekhtadictionary.com/meaning-of-mushk-e-khataa?lang=ur
.16 Khattak, Khushal Khan, Kulyaat, Makh 186
.17 Hum Dagha Asar, makh, 164
.18 Hum Dagha Asar, makh 186
.19 Hum Dagha Asar, makh 178
.20 https://www.independenturdu.com/node/89746
.21 Khattak, Khushal Khan, Kulyaat, makh 165
.22 Hum Dagha Asar, makh 172
.23 Jameel Yousafzay, Da Khushalyaato Yaw So Arrakhona, Nobel Printing Press Shiwa Adda Swabai, March 2007, Makh 43
.24 Khattak, Khushal Khan, Kulyaat, Makh 237
.25 Hum Dagha Asar, Makh 238
.26 Hum Dagha Asar, Makh 165
.27 Hum Dagha Asar, Makh 176
.28 Hum Dagha Asar, Makh 171

.29 Hum Dagha Asar, Makh 194
.30 Hum Dagha Asar, Makh 190
.31 Hum Dagha Asar, Makh 231
.32 Hum Dagha Asar, Makh 193
.33 Hum Dagha Asar, Makh 193
.34 Hum Dagha Asar, Makh 259
.35 Hum Dagha Asar, Makh 153
.36 Hum Dagha Asar, Makh 186
.37 https://www.rekhtadictionary.com/meaning-of-nabaatii-jugraafiya?lang=ur
.38 Ajmal Khattak, Pashto Adab, Maazi aw Haal, Pashto Academy Balochestan Quita, 2016, Makh 42
.39 Khattak Khushal Khan, Kulyaat, Makh 594
.40 Hum Dagha Asar, Makh 696
.41 Hum Dagha Asar, Makh 254
.42 Hum Dagha Asar, Makh 215
.43 Hum Dagha Asar, Makh 155
.44 Hum Dagha Asar, Makh 175
.45 Hum Dagha Asar, Makh 216
.46 Hum Dagha Asar, Makh 216
.47 Hum Dagha Asar, Makh 175
.48 Hum Dagha Asar, Makh 193
.49 Hum Dagha Asar, Makh 260
.50 Moamad, Abur Rahman, Da Rahman Baba Kulyat (Tahqiq, Tartib, samawana: Qalandar momand, Kamil Momand) Kohat Road Pekhawar, 1984, 277
.51 Khattak, Abdul Qadir Khan, Diwan, Tahqiq, Tartib Profesor Jhanzaib Niaz, Millat Educational Printers Lahore, March 2003, 172
.52 Khattak, Khushal Khan, Kulyaat, Makh 216
.53 Hum Dagha Asar, Makh 186